ډاکټرعبدالرحمن زماني
د ۲۰۲۰ کال د اپریل ۲۵

# د یوه افغان لخوا د پاکستان د لومړني صدراعظم د وژل کیدو د معما په هکله:

## دوهمه برخه – متهم قاتل سید اکبر خان څوک ؤ؟

د پاکستان د لومړني صدراعظم، لیاقت علی خان وژونکي، سید اکبرخان، د افغانستان د خوست د ځدرانو د ببرک خان زوي وپيژندل شو، څوک چې د ایبټ‌آباد په ښار کې اوسیدو.[1]

### سید اکبر خان څوک و؟

سید اکبر خان ببرکزي د غازي ببرک خان ځدران د نهو (۹) زامنو تر ټولو کشر زوی و چې په ۱۲۹۹ هجري شمسي کال کې د خوست د نادرشاه کوټ د ګیډورې په کلي کې زیږیدلی او لومړني دیني او مروجه علوم یې د خپل کورني استاد، مولوي عالمشاه څخه تر لاسه کړي وو.[2]


سید اکبر خان ببرکزی

سید اکبر خان د خپلې کورنۍ د نورو مشرانو سره یو ځای د ۱۹۴۴ م کال نه وروسته، د سردار هاشم خان صدراعظم د حکومت په دوره کې د کلي کور پریښودو ته مجبور او وزیرستان ته کډه شو.[3] دا هغه وخت و چې د لویې پکتیا اولسونو د حکومت په وړاندې پاڅون کړی وو، او خانداني حکومت د ببرک زي د کورنۍ د نفوذ نه ویره درلوده او ډاریده چې د غازي امان الله خان دغه پخواني پلویان یو ځل بیا د هغه د راوستلو د هڅو ملاتړ ونکړي. څکه یې د دوي پر کورونو، قلاوو او کلیو هم سخت ځمکني او هوائي بریدونه وکړل.

د ببرک زي کورنۍ د کوزي پښتونخوا په وزیرستان کې دري کاله د جلا وطنۍ ژوند تیر کړ. کله چې د هاشم خان د استعفا نه وروسته د هغه ورور سردار شاه محمود خان

---

1. Fetherling, George (2011-11-16). "AKBAR, Said". The Book of Assassins. Random House of Canada..
2. غروال، محمد عارف. د غازیانو او اتلانو یاد کتاب ۱۶۵ مخ .
3. د پکتیا د ځدراڼو قوم د ۱۹۴۴ کال د اپریل په میاشت کې د واکمني کورنۍ په وړاندې پاڅون وکړ چې د هماغه کال د مې تر میاشتې یې دوام وکړ. تر هغې یو کال وروسته د کونړ د ساپو (صافیو) پاڅون پیل شو. حکومت دا دواړه پاڅونونه د عصري وسلو په استعمال سره وټکول (غبار، افغانستان در مسیر تاریخ دوهم ټوک، ۲۰۲ مخ ). د کونړ د پاڅون په هکله د افغان جرمن آنلاین او دعوت میډیا ۲۴ په ویب پاڼو کې لدې قلم نه د «قیام سال ۱۳۲۴ صافی های‌کنر» تر عنوان لاندې شل (۲۰) مستندې مقالې لوستلای شئ .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

صدراعظم شو، نو هغه د ځینو سیاسي بندیانو د خوشې کولو تر څنګ د ببرکزي کورنۍ ته هم بلنه ورکړه چې بیرته هیواد ته ستنه شي. د غازي ببرک خان زامنو تر سلا مشورې وروسته داسې فیصله وکړه چې شپږ ورونه بیرته هیواد ته ستانه شي، خود کورنۍ مشر زمرک خان ببرکزي وویل چې د نادر خان په کورنۍ اعتبار نلري او تر څو چې یحیی خیل واکداران وي، افغانستان ته به ستون نه شي. په نتیجه کې غازي زمرک خان د خپلو دوو ورونو ډګروال مامون خان او سید اکبر خان سره د وزیرستان نه د بریتانوي هند د واکمنۍ لاندې سیمې ته کډه او د سیاسي پناه تر غوښتلو وروسته د ایبټ آباد په سیمه کې ورکړل شوو کورونو کې میشت شول. دوې بیا د پاکستان تر جوړیدو وروسته هم د ایبټ آباد په سیمه کې اوسیدل.

د سید اکبر خان ببرکزي څلور زامن دي. مشر زوي يې دلاور خان دئ، چې د (۱۱) کلنۍ په عمر د لیاقت علی خان د وژل کیدو د پیښې په وخت د خپل پلار سره په کمپنۍ باغ کې یو ځای و. هغه د خپل پلار تر وژل کیدو وروسته، پرته لدې چې و پیژندل شي، د پیښې له ځایه وتلي او د پنډۍ د ښار په یوه جومات کې شپه تیروله چې هماغه شپه د پولیسو لخوا نیول کیږي. دلاور خان اوس هم ژوندي دئ. د سید اکبر خان درې نور زامن فاروق خان ببرکزي، نورالله خان ببرکزي او محمد انور خان ببرکزي نومیږي.

## د ببرک زي کورنۍ

**ددغه کورنۍ مشر، غازي او بیا شهید ببرک خان ځدراڼ، د لویې پکتیا (پکتیا، خوست او پکتیکا) یو نامتو اولسي مشر، د خپلواکۍ د جګړې اتل او د غازي امان الله خان او اماني نهضت د آرمانونو یو سرتیرې پلوي و.**

د امریکې د ویلیامز په کالج کې د انتروپولوژۍ پروفیسر او دافغانستان په هکله د دوو کتابونو لیکونکي «دیوید ایډواردز» د نن نه تقریباً شل کاله مخکې لیکلي چې « افغانان په دوه ډول د کورنۍ نومونه نلري، خو دې نشتون د هغو خلکو لپاره ستونزې را مینځته کړې چې په ښاري مرکزونو کې د لوی شمیر ناپیژندل شوو خلکو سره ژوند کوي، کوم چې اکثرا یوشان نومونه لري. قبایلي پښتنانه اکثرا د کورنۍ د نوم په ځای د خپلې قبیلې د نوم په کارولو سره دغه ستونزې حلوي، او د پیژندل شوو پلرونو اولادونه ځینې وخت د خپل پلار نوم د کورنۍ د نوم په توګه غوره کوي. د مثال په توګه، د پکتیا د پیژندل شوي قومي مشر، ببرک خان، زامنو د "ببرکزی" نوم، او د [کونړ] د میر زمان خان زامن د «زماني» په نوم پیژندل شوي دي. خو ګڼ شمیر نور بیا د ۱۹۲۰او ۱۹۷۰ په لسیزو کې د زده کړې دپاره په پوهنتون کې د ګډون لپاره کابل ته راغلي، او ځانونو ته وروستي نومونه (تخلصونه) جوړ کړي دي.[4]

---

[4] . Before Taliban Genealogies of the Afghan Jihad. by David B. Edwards، ۲۶۰ مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**غازي ببرک خان ځدراڼ**

ببرک خان د ځدرانو د مزک خان زوې د ۱۲۴۱ لمریز هجري / ۱۸۶۱ م کال په شاو خوا کې د خوست ښار لویدیزته په ۲۳ کیلومترۍ کې د ګیډورې په کلي کې چې د خوست - کابل تر منځ غځیدلي لویې لارې ته ورڅیرمه پرته سیمه ده، زیږیدلې و.

ده خپل ژوند په خوارۍ او غریبۍ پیل کړې و، او د سیمې د نورو ځوانانو په شان یې د غرونو د جنګ او د وسلې چلولو مهارت زده و. د نولسمې میلادي پېړۍ په پای کې چې ببرک خان هغه وخت د امیرعبدالرحمن پام ځان ته واړوه، چې پر انګرېزانو یې غلچکي بریدونه وکړل . هغه وخت د ډیورنډ تړون شوی و او انګریزانو ته دا د افغانستان له خوا په هند تیری ښکارېدو نو امیر ته یې شکایت وکړو.

امیر عبدالرحمن د پکتیا حاکم شیریندل خان ته فرمان واستوه، چې ببرک خان دې ورته حاضر کړي. ببرک خان کابل ته ورغلو او امیر سره یې ولیدل. سراج التواریخ په دې هکله لیکي چې "د ببرک خان ... حضرت والا ته ورسېد او د هغه پام یې واړوه او عواطف او مهرباني یې وپاروله. هغه ته د امیر له خوا د المرې په کلي کې ځمکه او د ملکي غونډ مشري ورکړل شوه. کله چې له کابل نه د امرالدین خان په مشرۍ یو هیئت راغلو چې د انګریزانو د نقشې له مخې سرحدي حدود ورته په نښه کړي، نود سرحد له معلومولو وروسته غازي ببرک خان د سرحد په اوږدو کې دولس تاڼې جوړې کړې چې اوس هم دغه تاڼې دده په نوم یادیږي.[5]



غازي ببرک خان ځدراڼ

دی په ۱۸۹۸ م (۱۲۷۷ لمریز) کال د خوست د سیمې د امنیت مشر او خاصه دار و چې د هغې سیمې امنیت یې د یوه تړون له مخې ساته، خو وروسته دغه چارې منظمو لښکرو ته حواله شوې. کله چې په ۱۹۱۲ م کې د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ پرمهال د منګلو او احمد زیو بغاوت وکړ نو ببرک خان د حکومت ملاتړ وکړو. په ۱۹۱۷ م کې هم دی د خوست د امنیتي چارو ناظم و.

په ۱۹۱۹ م کې کله چې غازي امان الله خان واک تر لاسه کړو نو ببرک خان د سید موسی شاه مندوزي سره کابل ته ورغلو او هغه ته یې بیعت ورکړ.[6]

ببرک خان ځدراڼ په هیواد او ولس مین، میلمه پال او مهربان شخصیت وو. د خانۍ او مشرۍ با وجود یې د خپلې خاکسارۍ له مخې د میلمنو پالنه او خدمت خپله کولو. هغه د هوسا ژوند تیرولو پریمانه شخصي امکانات لرل، خو ده خپله هوساینه په وسایلو نه، بلکې د قومونو په اتحاد، اتفاق، عزت او سوکالۍ کې لټوله.

---

[5]. کاتب هزاره، ملا فیض محمد (۱۳۳۱). سراج التواریخ، ۷۵۳، ۱۰۰۱، ۱۰۰۹ او ۱۰۱۸ مخونه.

[6]. ځلمی، محمد ولي ( د افغانستان د علومو اکاډمي- ۲۸ اسد، ۱۳۶۸هـ ). زمونږ غازیان- محمد ولي ځلمی،– ۲۰۶ او ۲۰۷ مخونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

غازي ببرک خان د شتمنۍ او مشرۍ با وجود بیلي (لوڅې) پښې ګرځیده. د صفیه حلیم په وینا، له همدې امله نوموړی په کابل کې په پښې لوڅې جنرال مشهور وو. جنرال یې ځکه باله چې د هیواد د دفاع او د سرحدونو د ساتنې په برخه کې د هغه د غوره خدمتونو، هلو ځلو او مبارزې د قدردانۍ په موخه اعزازي جرنیلي ورکړې شوې وه. غازي ببرک خان به هر وخت د کارتوسو ګردنۍ تړلې توپک په لاس او سپین موټي ساتوره به یې په کمربند کې تومبلې وه. ویل کیږي چې یوه ورځ غازي امان الله خان ترې پوښتنه وکړه چې ته د لویې پکتیا پېژندل شوی مشر یې، ولې لوڅې پښې ګرځې؟ ده ورته ځواب ورکړو چې زه د قام مشر یم او چې خلک مې پښې لوڅې ګرځي، زه ځان ته حق نه ورکوم چې څپلۍ یا بوټان ولرم.[7]

**د خپلواکۍ جګړه**

د انګریزانو سره د خپلواکۍ د ګټلو په دریمه جګړه کې غازي ببرک خان د ټل او وانه په برخه کې د خپلو دوو ننګیالیو زامنو شیرک خان او زمرک خان او د ځدرانو، وزیرو، تنیو د لسو زرو اولسي غازیانو په ملګرتیا ستره ونډه درلوده.[8]

د ببرکزي کورنۍ د اسنادو په روایت، محمد نادر خان د خپل لښکر سره یو ځای د جګړې محاذ ته په لاره څو شپې د غازي ببرک خان مېلمه و او بیا وړاندې لاړو. د نګاهی بتاریخ استرداد استقلال لیکونکي اروانباد عزیزالدین وکیلي فوفلزائي پدې هکله د خپل کتاب په ۲۲ او ۲۳ مخونو کې لیکي چې «سردار محمد نادرخان سپه سالار بساعت ۲ شام بمنزل «وزه» وارد و پس از ملاقات با ملکان جدران بتاریخ ۲۷ ثور در وقت صبح عساکر از آنجا کوچ کرد و سپه سالار بساعت ۹ از عقب عساکر حرکت کرد و از باعث خرابی راه اسپ سواری فقیر محمد بیطار در یک پرتگاه سقط شد. قوم ملک مگس خان و عسکر قومی ببرک خان از سپه سالار استقبال کردند. لیوک خان [زمرک خان-زمانی] پسردوم ببرک خان در راس لشکر قومی خویش حاضر و اهالی درین موقع بیرقی را که بیک طرف آن (نصرمن الله و فتح قریب و بشرالمومنین) و بطرف دیگر آن نشان دولت افغانستان و اسم مجاهد غازی اعلیحضرت امیر امان الله خان نقش بود بر افراخته پس از نیم ساعت راه پیمایی در علاقه المره رسیدند و به ساعت ۷ شام در منزل المره که قریه ببرک خان است، وارد شدند.»

د ببرکزي د کورنۍ په وینا ببرک خان یې ډېر تود هرکلی وکړ او د غه لوی لشکر د غازي ببرک خان په کور کېدوره کې میلمانه وو او برسیره پر دې دوې د آزادۍ د لښکر لپاره څلو زره د سپینو زرو کابلي روپۍ نقدي ډالۍ کړې.

ببرک خان په خپل ځای (المره) کې د انګریزانو سره د جهاد لپاره یو لوی لښکر جوړکړو. په دوی کې د تنیو، وزیرو، مسعودو، منګلو، ځدرانو او په خوست کې د نورو قومونو جنګیالي شامل وو چې شمیر یې شاوخوا (۹۰۰۰) نه زره ته رسیدو، او په متون کې د نادر خان د پوځ سره یو ځای شول.

---

7 . صفیه حلیم ویبلاګ. https://www.safiahaleem.com/?p=3797، (د ۲۰۲۰ د اپریل په ۲۵ نیټه وکتل شو).

8 . ځلمی، محمد ولي ( د افغانستان د علومو اکاډمي- ۲۸ اسد، ۱۳۶۸هـ ). زمونږ غازیان- محمد ولي ځلمی،– ۲۰۶ او ۲۰۷ مخونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

«د ۱۹۱۹ م کال د مې د میاشتې په ۲۵مه نیټه، کرنیل عبدالقیوم خان او کرنیل خدایداد خان د دوه ټولي پیاده عسکرو او دوه توپونو سره چې د ببرک خان ځدراڼ په مشرۍ د ځدرانو د قوم جنګیالي ورسره ملګري وو، د ټل او میرانشاه تر منځ په سپین وام کې د انګرېزانو د تهاڼې نیولو ته ورغې، خو د دښمن قواوې، چه شمیر یې (۳۰۰) درې سوه کسانو ته رسیدو، تښتې او د هغوي له ډلې یواځې دوه ویشت تنه افریدي د خپلو ټوپکو سره افغانانو ته تسلیمیږي. د دښمن قواوې تر تښتېدو د مخه خوراکي توکي (نخود، وره، بوره، کچالو او نور) او جبه خانه سیځې.» [9]



غازي ببرک خان ځدراڼ د خپلو دوو تنګیالیو زامنو شیرک خان اوزمرک خان سره

په سرحد کې بحران - د افغان دریمه جګړه او د وزیرستان کمپاین ( ۱۹۱۹ او ۱۹۲۰ م) په کتاب کې انګریز مؤرخ براین رابسن د ټل په سیمه کې د جګړې په هکله لیکي چې «میجر وایلي [ټل ته د رسیدو په لاره - زماني] د جنرال ډایرهرکلي وکړ او هغه ته یې د افغانانو د وضعیت په هکله مفصل معلومات ورکړل. د ټل شمال ته د درې زره شاوخوا اولسي لښکرد ټل کلي او د خادیمخ د غر ټیټې لمنې نیولې وې. د هغوي شاته د جنوبي نیمي تیراه اورکزیو او زایموخت قبایلیانو ځارنه کوله او کتل چې بري به د چا په برخه کیږي. خو تر هغې هم لوی لښکر چې د خوست قبایل پکې وو او د بریتانوي هند "وزیرو" د ببرک ځدراڼ په مشرۍ د "اشکالۍ نالي" جنوب لوري غرونه نیولي وو. د افغان پوځ اصل ځواک د خپلو زیاتو توپونو سره د کورمې سیند لویدیځ، په خپیانګه او یوسف خیلو کې و، چې د نادر شاه مرکزي کمپ پکې جوړ و. په دې توګه ټل د دریو خواو نه محاصره شوی او یواځینۍ لاره چې خوک پرې تلی راتلی شول، ډایر(جنرال) پرې ورغلو. د افغان پوځ شمېره (۳۰۰۰) او شاو خوا (۹۰۰۰) قبایل ورسره ملګري وو. ډایر ته ځرګنده شوه چې د نادر شاه [لیکوال هغه د سپه سالار نادر خان پر ځای د نادرشاه په نوم یادوي-زماني] عادي پوځ او توپې د ټل جنوب کې د ببرک ځدراڼ د سرو ملاتړ نشي کولی ځکه چې په منځ کې یې د ټل سیند و. د دې لپاره هغه لومړی په ببرک ځدراڼ د حملې نیت وکړو. خو د خپل نیت د پټولو لپاره هغه د ټل په کلي او په جنوب کې د قبایلو په سنګرو د ۸۹ بیټرۍ او د سرحدي ګارنیزون د توپخانې ډزې پیل کړې.»[10]

[9]. زماني، عبدالرحمن (۲۰۱۳). بازنگری دوره امانی و توطئه های انگلیس، ۹۶- ۹۷مخونه.

[10]. Robson, Brian (2004). CRISIS ON THE FRONTIER: The Third Afghan War and the Campaign in Waziristan 1919-1920 ۱۰۰-۱۰۱ مخونه.

د یادونې وړ ده چې په ډېرو لیکل شوو آثارو کې د آزادي غوښتونکو اتلانو لخوا د ټل د فتح کولو یا نیولو ته په اشاره کې د ټل د ښارګوټي او ټل د جنګي کلا (قلعه) تر منځ تیروتنه شوې ده، او د ټل د جنګي کلا د نیولو په هکله تر اوسه هیڅ ډول مؤثق سند تر لاسه شوې نه دئ. په حقیقت کې د هغو عیني شاهدانو روایت سره سم چې د جنوبي په جبهه کې د سپه سالار نادر خان سره ملګري وو، وروسته له هغې چې (د ببرک خان ځدراڼ په مشرۍ) د ځدراڼو او منګلو اولسي لښکرو د ټل د ښار په لوري پرمختګ وکړ او د ټل د ښار او بازار دننه د خلکو د هرکلي سره مخامخ شول، انګریزي پوځیان د خپلو شاوخوا مرکزونو څخه راووتل او د ټل جنګي کلا ته یې پناه یوړه. د ځلورو توپونو لرونکې د انګریزي قواوو یو غونډ پنځه ورځې د افغانانو تر محاصرې لاندې وو. تر څو چې د جنرال ډایر د قواوو په رسیدو سره محاصره ماته شوه. پدې هکله د زیاتو معلوماتو دپاره د بازنګری دوره امانی د کتاب ۹۹-۱۰۴ مخونو کې مفصل معلومات کتلې شئ.

پدې هکله د زیاتو معلوماتو یوه بله منبع د ظفر حسن ایبک د خاطراتو کتاب هم دئ، چې د محترم فضل الرحمن فاضل په زیار له اردو ژبې دري ته ژباړل شوې دئ. د سپه سالار نادر خان دغه ملګرې او د جنوبي د جبهې خبریال لیکي چې «**...وقتی که قبیله های جدران و منگل به طرف شهر پیشقدمی کردند، افسران انگلیسی از گرد و نواحی پایگاه های شان برآمده، به قلعۀ تل پناه بردند و بدین ترتیب راه شهر به روی مجاهدین باز گردید. وقتی که مجاهدین وارد شهر گردیدند، اهالی تل با گرمجوشی از آن ها استقبال نمودند و برای شان شربت و ماست تقدیم داشتند**[11]». ظفر حسن وروسته له هغې چې سنګر ته پر پیلانو د هویتزر د توپونو د رسیدو او د یوه غره شاته د ځای پر ځای کیدو او خپله نادر خان لخوا د ټل د جنګي کلا د نښه کیدو په هکله معلومات ورکوي، لیکي چې «**روز دیگر چند گلوله به استقامت قلعه، از توپهای جرمنی هوتزر آتش شد و لشکر به محاصره قلعه دست یازید، اما این کار ها قرین مؤفقیت نگشت و امیدی هم به تسلیم شدن افرادی که در داخل قلعه بودند محسوس نبود.**»[12]

د انګریزانو د پوځ په رسمي نشریې کې پدې هکله معلومات په لاندې ډول دي:

«**به تاریخ ۲۸ می آتش توپ های ۱۰ سانتی متری هویتزر شدید تر و دقیقتر شد. ذخیرۀ پترول و پشته های کاه در خارج از قلعه و جیرۀ مواد غذائی در صحن ستیشن قطار آهن به آتش کشیده شده، و دستگاه بیسیم هم هدف قرار گرفته برای چندی از کار بازماند. برای کم کردن گلوله باری افغانها کوشش کردیم تا توسط دو بال طیارۀ قوای هوائی شاهنشاهی برمحل توپ های دشمن بمب بریزیم. این کار در آن وقت مؤثر بوده اما این یک کمک مؤقتی بود (طی همین بمباران طیارات انگلیسی احمد جان خان کمیدان کابلی به شهادت رسید). ساعت ۱۰ و ۳۰ (ده ونیم) قوای افغانی از داخل شهرک ټل کوشیدند قلعۀ جنگی ټل را مورد حمله قرار دهند. این حملۀ آنها به آسانی دفع شده و آنها دوباره به حملۀ دست نزدند.**[13]

ببرک خان ځدران چې د هیواد یو نامتو غازي او د غازي امان الله خان او مرکزي دولت یو سر تیرې پلوي و په ۱۹۲۴ م کال کې د منګلو د اغتشاش په دوران کې د دولت په پلویتوب یوې جګړې کې ووژل شو.[14] ویل شوي چې

---

[11] . خاطرات ظفر حسن آیبک (۲۰۰۳)، صفحات ۱۹۳-۱۹۵.
[12] . خاطرات ظفر حسن آیبک (۲۰۰۳)، صفحات ۱۹۸-۱۹۹.
[13] . Army. General Staff Branch (1926)، ۵۷ مخ په حواله د بازنګری دوره امانی و توطئه های انگلیس ۱۰۱ مخ
[14] . غبار، میر غلام محمد (۱۳٦٦)، صفحات ۸۰٦ تا ۸۱۱..


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پدې جګړه کې د ببرک خان يو ملګرى غزنې خان د ټوپک په ګولۍ ولګيدو نو ده ته يې ناري کړې. هغه خپل ملګري راپورته کوو چې په بلې ګولۍ په سينه ولګېدو او ځاى پر ځاى مړ شو. دى د ۶۳ کالو و او پخپل کلي المره کې خاورو ته وسپارل شو.

نوميالي افغان مورخ عزيزالدين وکيلي پوپلزي د فرهنګ کابل باستان د دويم ټوک په ۱۰۲۸ مخ کې پلازمېنې کابل ته د ببرک خان ځدراڼ د شهادت د خبر د رسيدو په هکله ليکلي چې «ببرک خان جدران از مجاهدين جهاد استرداد استقلال افغانستان در جبهه جنوبى در سال ۱۲۹۸ شمسي - در برج سنبله سال (۱۳۰۳) هجري شمسى مطابق شهر صفر المظفر سنه ۱۳۴۳ قمري و موافق سپتمبر ۱۹۲۴ ميلادي از طرف مخالفين استقلال افغانستان در قرارګاه خوست بدرجه رفيع شهادت رسيد».

غازي ببرک خان نه (۹) زامن درلودل چې نومونه يې په لاندې ډول دي:

مشر زوې شيرک خان ببرک زي، د کورنۍ مشر نائب سالار زمرک خان ببرکزي، قومي مشر شير محمد خان ببرکزې، ياور عبدالله خان ببرکزي، نعمت الله خان ببرکزي، ميرافضل خان ببرکزي، عبدالرحيم خان ببرکزي، ډګروال مامون خان ببرکزي او سيد اکبر خان ببرکزې.

(نور بيا)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ